محمد داود مومند ۲۰۱۱/۰۵/۰۱

# پیاوړي او نامتو شاعر جهاني ته زما عرایض

په افغان جرمن آنلاین کې مې ستاسې په زړه پورې مضمون د (تازه خبرې، عصر خود را بنگر) د عنوان لاندې ولوست چې ستاسې په ملي احساس دلالت کوي. تاسې د خپلې لیکنې په یوه برخه کې داسې فرمائیلي دي: "زه د یوه افغان په حیث په اوسنیو شرایطو کې له افغانستان څخه د ناتو د قواو د وتلو سره مخالف یم او په دې عقیده یم چې د هغوی له وتلو سره به په وطن کې د وینو ویالې وبهیږي."

ښاغلی جهاني صاحب ته د افغاني ملي ژبې د شعر او ادب یو ځلانده ستوری یې او زه په زغرده ویلای شم چې ته د استاد الفت، استاد بینوا، استاد خادم او اجمل ختک په اندول معیاري اشعار لرې او د افغاني او پښتني ادب مینان ټول تا پیژني او ستا په پښتني او افغاني احساس معتقد دي، نو څرنګه چې ته خپلې ټولني او وطنوالو ته پیژندل شوې څیره یې او مخاطب دې هم خپل وطنوال دي نه ایرانیان یا پاکستانیان نو د دې خبرې تذکار ته به ضرورت پاتې نه وي چې تاسې فرمایاست چې تاسې د "یوه افغان په حیث" داسې عقیده لرئ. غوره به دا وای چې تاسې خپله خبره د خپل شخصي نظر په توګه پرته له دې چې "د افغان په حیث" جمله په کې علاوه کړې څرګند کړای وای.

زما لوی مشکل ستاسې د بیان سره دا دی چې که احیاناً هغه وطنوال لکه زما په څیر چې د ناسیونالیستي تفکر او اصولو په بنأ د امریکا د متحده ایالاتو او ناتو استعماري قوتونو د اشغال او د اشغال د دوام سره مخالف وي آیا د داسې وګړو دریځ به خدای مکړه غیر پښتني او افغاني وي؟

سوال دا دی چې آیا د امریکې او ناتو استعماري قوتونه زمونږ هیواد ته د اشغال په منظور راغلي دي او یا زمونږ په هیواد کې د یوه ملي دولت د تأسیس، په ولس کې د ملي وحدت تأمین ، د جنایت کارانو د نابود کولو او په نتیجه کې د وینو د تویولو د مخ نیوی په منظور؟

آیا د ناتو او امریکې د تجاوز او اشغال په رڼا کې زرګونه ځلې طالبي څوانان د دوی د مزدورانو یعنې جمیعت، ستم، پرچم، نظار د جنایت شعاره او جنایت کاره مشرانو مسعود پنجشیری، بحران الدین، ګلم جم، فهیم خرمګس پنجشیری، یونس بی قانون پنجشیری، بچه فلم عبدالله پنجشیری اود داسې نورو له خوا په نازي دوله تاکتیکو ونه وژل شول؟ آیا هره ورځ د افغانستان په پښتني سیمو کې په خلکو او ولس بمونه نه لوېږي او وینې یې نه توېږي؟

آیا څلویښت ملیونه پښتانه ټول طالبان یا د امریکې او ناتو د استعماري قوتونو په اصطلاح تروریستان دي چې د دوی ملي قوت باید نابود او مضمحل شي؟

آیا په هیواد کې په ثلاثه ابعادو کې یو ضد ملي، ضد اسلامي، ضد پښتني او افغاني، ضد انساني جنایتکار دولت د چا په پلان، اراده او نظامي قوت مینځ ته راغی او آیا د ناتو د اشغال دوام د جنایت کار دولت او جنایتکارو ضد ملي سرطاني تجزیه غوښتونکو او د ملي وحدت د دښمنانو د سیاسي، اقتصادي او کلتوري اقتدار د دوام مفهوم نلري؟

جهاني صاحب زما په عقیده په هیواد کې د استعماري قوتونو (امریکا او ناتو) د موجودیت دوام زمونږ په ټولنه کې د ملي ژوند په ټولو ابعادو کې د تضادونو د تخلیق، تشدید او تکوین یو اساسي او بنسټیز عامل دی چې نتیجه یې زمونږ د ولس د وینو تویول دي.

زما په نظر ماهیتاً د شوروي اتحاد او امریکې د تجاوز او اشغال په اهدافو کې کوم فرق نشته یوازې تفاوت دا دی چې امریکا په بلیونونو ډالر لري چې د موجوده دولت د ټولو همکارانو که د غرب نه هیواد ته تللي دي یا په هیواد کې ژوند کوي ایمان او وجدان تري اخیستلای شي او د هغې په بدله کې دا حلقه بګوش غلامان وایي چې هیواد د اشغال لاندې نه دی او د امریکا او ناتو قوتونه زما نازولی میلمانه دي. فهیم، قانوني، عبدالله، صبغت الله ، ګیلاني، بحران الدین ، سیاف ، ګلم جم، محقق، خلیلي، معلم عطا، حامد جان، او د هغه ټول مشاورین، سفیران او د کابینې غړي بلا استثنأ خپل ضمیر، ایمان او وجدان د چوکی ، پیسو او اقتدار د ساتلو د پاره خرڅ او معاوضه کړی دی.

ترڅو چې ناتو په هیواد کې وي د ملت او هیواد مقدرات به د همداسې عناصرو په لاس کې وي او د وینو ویالې به په پښتني سیمو کې جاري وي، ځکه په موجوده شرایطو کې ځانله پښتنو لوړه کړې ده چې د امریکې او ناتو غلامي به نه مني. نورو قومي ورونو د مقاومت په میدان کې پښتانه ځانله پرې ایښي دي.

امریکا او ناتو د جورج بوش لعنت الله علیه په دوکتورین ولاړ دي چې "که زمونږ سره نه یې نو زمونږ دښمن یې."

جهاني صاحب که زما په عرایضو کې د ننی ورځ د سیاسي تعقل او سواد د معیارونو خلاف کوم مطلب موجود وي په خپله بزرګواری سره ما عفوه کاندئ.

په درناوی


افغان جرمن آنلاین تاسو په درښښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ